


# د سرب نه کارول

## د سرب مسمومیت څه شی دی؟

د سرب مسمومیت هغه وخت پیښیږي کله چې تاسو په سرب پورې ککړ شی وخورئ او یا تنفس کړئ. یوځل چې ستاسو بدن ته دننه شي بیا سرب کولی شي ستاسو روغتیا باندې اغیزه وکړي. ځوک چې د سرب مسمومیت ولري ممکن ناروغ ښکاره نشي ، او یا هم علایم یا نښې یې د بل روغتیایی حالت سره توپیر و نلري. د سرب هیڅ خوندي کچه شتون نلري چې یو ځوک یې باید په هغه کچه ولري. د سرب مسمومیت 100٪ د مخنیوی وړ دی.

## سرب زموږ په محصولاتو کې

کله چې موږ د سرب مسمویت په اړه فکر کوو، زموږ پام ډیری وختونه کې د رنګ شوي سطحو ته ځي. پداسې حال کې چې رنګ د سرب مسمومیت یوه عامه سرچینه ده، خو دا یې یوازینی سرچینه نه دی. سرب په ورځني توکو کې هم شته دی. د DSHS تصدیق شوي د سرب خطر ارزونکي په لوښو، مصالحې، کاسمیټکس، او مذهبي/جشني پوډرو کې هم سرب موندلي دي.




سرب زموږ د فکر په پرتله ډیر عام دی. یوازې په کمه کچه سرب هم په ماشومانو کې جدي روغتیایی ستونزې رامینځته کوي.

## زه څه وکړم که چیرې سرب زما په توکو کې موجود وي؟

د داسې توکو کارول بند کړئ. د یاد شوي توکو لیست لپاره د مصرف کونکي توکو خوندیتوب کمیسیون سره اړیکه ونیسئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو په کور کې ماشومان سرب لرونکو توکو ته لاسرسئ نلري

## په ورځني کارونکو توکو کې د سرب په اړه حقایق











### لوښي او د خټو لوښي

دوديز او د خټو لوښو کې اکثرا د رنګونو د څرګندولو او روښانه کولو لپاره سرب کارول کیږي.  کله چې تاسو دا توکي وکاروئ، سرب کولی شي خواړو کې ګډ شي.

### مساله او نور د خوړو توکي

په لوی مقدار پلورل شوي مسآله کې د وزن زیاتوالي یا رنګ روښانه کولو لپاره سرب کارول کیږي.وارد شوي کینډیز یا شیریني کې هم ممکن سرب شتون ولري. د دې توکو خوړل یا کارول، په ځانګړې توګه که چیرې وارد شوي وي، کولی شي تاسو د سرب د مسمومیت لوړ خطر سره مخامخ کړي.

### کاسمیټکس

په متحده ایالاتو کې تولید شوي کاسمیټکس یا آرایشي توکو کې نور سرب نه کارول کیږي. مګر وارد شوي توکو کې لکه کوهل، کوم کم، یا سورما کولی شي په لوړه کچه سرب ولري.

### مذهبي او جشني پوډر

ځیني دیني او جشني پوډرو کې د رنګونو روښانه کولو لپاره سرب کارول کیږي.  هغه توکي لکه سیندور یا پوډر چې د هولي په رسم کې کارول کیږي کیدای شي سرب ولري. د دې پوډرونو لخوا رامینځته شوي دوړې کولی شي تاسو په سرب مسموم کړي. حنا چې د سینګار لپاره کارول کیږي  هم کیدی شي سرب ولري.

### سنتي او روغتیاي درمل

هغه توکي چې د معدې درد، د هاضمي ستونزو، او سر درد لپاره کارول کیږي ډیری وختونه سرب هم په خپل ترکیب کې لري. دا توکي ډېر نومونه لري، لکه آلارکون، آزارکون، کورل، لیوګا، یا ګریتا .دا سنتي درمل اوروغتیایي درمل کولی شي تر 100٪ پورې سرب ولري. د دوی کارول کولی شي جدي روغتیایی ستونزې رامینځته کړي. نور توکي لکه د بدو سترګو د مخنیوي لپاره زنګونونه هم کیدای شي سرب ولري. کوچني ماشومان ممکن دا په سرب ککړ توکي وخوري .

### د لوبو توکي او زیورات

پلاستیکي، فلزي، او د لوبو توکو او زیوراتو رنګ شوي برخې کیدای شي سرب ولري. د لوبو توکو او زیوراتو اغوستل او ورسره لوبې کول په سرب د مسمومیت لامل نه کیږي خو د لوبو د توکو خوړل ، ستل او تیرول په سرب مسمویت لامل ګرځي.